زه حاضريم چي دګڼ شميرطرحوتاسو ته کاپي درکړم . دهغه لاندي امضاوي شوي اوموږتياريو چي دهغه په نسبت التزام وکړو. شپږوتنظيمونو ديوي لويي شورا لپاره يوطرحه جوړه کړي ، موږپرهغي باندي ملاحظات درلودل ، زموږپه خلاف تبليغات کيدل وموويل چي تاسوچي په څه باندي توافق وکړموږ يي منو. دانتخاباتوکميسيون جوړشو، داخل ته هيئتونه هم ولاړل : دګڼ شميرولسواليو نه نتايج هم راغونډ شول، هغوي خپل غړي هم لويي شورامرکزي شوراته معرفي کړل ولي تاسو وليدل چي موږ دهغي تاييد اوملاتړکاوه ، طرحه نوروجوړه کړي وه موږيه کي شامل نه وو، دطرحي په نسبت مواعتراضات درلودل ، ويل موجي بايد دملت رايي ته رجوع وشي، پرخپل ولس بايد اعتماد وکړو، دخپل قوم له فيصلي نه بايد ويره ونلرو. داقوم چي داسلام لپاره يي ديارلس کاله قرباني ورکړه اوددي جهادستونځي اوکړاوته يي وځغمل ، راځي پردي قوم اعتمادوکړو انتخابات نشي کيداي ، دمحلي شوراګانو له لاري نه دي،داهل راي له څوادي لس لس کسان دهري ولسوالي په سطحه معرفي شي موږيي منو، له دوي نه دي لويه شورا جوړه شي . دادي راتلونکي حکومت جوړکړي ، ولي تاسووليدل چي همدغو کسانوچي داطرحه يي جوړه کړي وه دبي بي سي اوصداي امريکا له لاري

دا تبليغات کول چي دلته خودپيسواو دوسلو نه کاراخيستل شوي اوموږ داانتخابات نه منواوداطرحه ناکامه ده اوولس ددي مخالفت کوي . حال داچي ولس فيصله کړي ، قوماندانانو، علماوو، قومي سپين ږيرو او محرومشرانو فيصلي کړي . نمايندګان يي راليږلي خپلي فيصلي يي شوراته راليږلي دي . دوي هيئتونه راليږلي . ولي همدادوي وو چي ددغو فيصلواوپريکړومخالفت يي کړي اوويلي يي دي چي دلته خودوسلي نه کار اخيستل شوي اويسي ويشل شوي خلک تهديد شوي . پدي خاطرموږددغوانتخاباتو نتايج نه منو. موږ د مجاهدينو واقعي اسلامي يووالي او وحدت غواړو. لکه

ترنه پوري مو چي ديووالي اووحدت لپاره قرباني ورکړي بياهم قرباني ته تياريو ، که څه هم متاسفانه نوروزموږ ددي قربانيو نه غلطه ګټه اخيستي ده اوهرځل ديووالي اووحدت هره هڅه اوهاند ددي په ځاي چي دمجاهدينو مختلف صفوف متحدکړي ، دنويو دلودپيداکيدوباعث شوي . دوحدت اواتحادترنامه متعددي نوي دلي پرانستي شوي. موږبياهم ديووالي لپاره تياريو. که اوس يوقوي وحدت ممکن نه وي، راځي پر مشترکو عملياتو توافق وکړو. راځي دمجاهدينو دموقف دتوحيد لپاره په يوي محدودي اداري باندي توافق وکړو. پدي خبري په خپلومنځونوکي تعهدوکړو چي دکابل رژيم ترنسکوريدو نه بعدبه يوه موقته اداره دهغه ځاي نيسي بيادملت رايي ته رجوع کوواويو منتخب اسلامي حکومت بايد دموقت حکومت

ځاي ونيسي . موږټولو تنظيمونوته ددي خبري اطمينان ورکوو چي نه دسازشونو له لاري قدرت ته رسيدل غواړو اونه به نوروته ددي موقع ورکړو.نوردي هم داخوب او خيال له خپل ذهن نه لري کړي چي دسازشونو له لاري نه به وکولاي شي پرافغانستان حکومت وکړاي شي . نورددي وخت تيرشوي که نورتنظيمونه انتخابات عملي نه ګڼي اويا دهغه په نسبت اعتراضات اوملاحظات لري، هغه ورته غيرشرعي بريښي نو زه هغوته وايم راځي دهري ولسوالي په سطحه دي محلي شوراګاني جوړي شي هلته دي همغه کسان پدي شوراګانوکي برخه واخلي چي ولس ورباندي اعتماد او باورلري . دولس دراپي نمايندګي کوي . اهل حل وعقددي . داديړيکرو اودفيصلو داهل حل و عقد اختيارات له دوي سره دي . دهمدغوته دي محلي شوراګاني جوړي شي . دهرلوي مسجد په سطحه دي يوه شوراجوړه شي ، دوي دي پنځه پنځه کسان وټاکي . دادي راشي اودولسوالي په سطحه دي دولسوالي شوراجوړه کړي . دوي دي هم خپل نمايندګان ولايت ته معرفي کړي ، ولايت دي مرکزي شوراته معرفي کړي ، دغه مرکزي شورادي دافغان ولس په نمايندګي راتلونکي حکومت جوړکړي ، موږيي منو. انتخاباتو ته هم ضرورت نشته ، تعددته هم ضرورت نشته . انتخاباتي مبارزي ته هم ضرورت نشته . له کانديد اوانتخاباتي مبارزي نه پرته دي کسان راوړاندي شي . دولسوالي په سطحه دي شورا جوړه شي . دولايت په سطحه دي شوراجوړه شي .

دغه دولايت شورادي مرکزي شورا ته نمايندګان معرفي کړي اودهرولايت په سطحه دي شل شل ، شپږسوه کسان دي سره راغونډ شي . که داشوراګاني ته وه .که له شورانه بهر داسي اهل حل وعقد ووچي دهغوي په شوراکي ، عضويت اوغړيتوب ضروري ؤ دادي هم پري علاوه شي ، داستکمال دپروسي ترنامه لاندي دي نورکسان هم په همدي تعداد علاوه شي، يوه مکمله قوي شوراچي دملت نماينده ګي کوي اوټول قوم دهغه ترشاولاړوي ، داشورادي جوړه شي دملک له پاره دي اساسي قانون جوړکړي اوراتلونکي منتخب حکومت دي جوړکړي . موږ دي سره موافق يو. که څوک وايي انتخابات نه کوو، صحيح ده ، زه يي درسره منم ، له انتخاباتو نه صرف نظرکوو، وايي تحزب په اسلام کي نشته ، سره لدي نه چي حزب لري ، حزب دي جوړکړي داختلافاتوباعث شوي يي . حزبي تعصب درسره دي ، دحزب طرف ته پلنه ورکوي اوداختلافاتو اودنزاع اوکشمکش باعث شوي يي ، عملا حزب لري خويه دي عقيده هم لري اواظهارهم کوي چي تحزب جائز ندي . چي تحزب جائزندي له حزب نه لاس واخله ، حزب دي منحل کړه ، راځه دغه طرحه ومنه ، چي په هغي که نه تحزب شته ،نه انتخابات شته اونه هم انتخاباتي مبارزه،له لاندي نه دي په تدريج سره شوراګاني راپورته شي اومرکزي شورادي دملت په خوښه جوړه شي . دغه شورادي دټول ولس په نمايندګي تصميم ونيسي . اما که نه غواړي چي ټل به حکومتونه داسي جوړيږي چي ددغوتنظيمونو ترمنځ بايد وزارتونه تقسيم شي اويه يوتناسب توافق وشي ، بياهرتنظيم خپل زوړ اوزوم کابينې ته معرفي کړي . نودانه عملي ده نه موږددي مثال اونمونه په ټول تاريخ کي ګورو، نه ددي لاري نه په دنيا کي چيرته هم يوحکومت جوړشوي او نه هم هغه ادامه موندلي تاسووګوري چي حتي ائتلافي حکومتونه چي هلته هرحزب په خپل تناسب برخه لري . دځو مياشتو نه زيات دوام نشي کولاي .

دپاکستان تجربه کافي ده . حال داچي دلته يوقوي حزب ؤ په څنګ کي يي محدودي ولي له خپل ضعيف موقف سره ، ولي پس له يوځومياشتونه يي دوام ونشوکولاي . هندکي وګوري ځومياشتي يي دوام ونشوکولاي . موږ يوقوي حکومت ته ضرورت لرو، راځي دغه شورادي له خپلو ټولو شرعي صلاحيتونواوامکاناتوسره يوشرعي اميروټاکي دغه دي دخپلي خوښي کابينه جوړه کړي . په احزابو دي نه ويشي چي دحکومت په داخل کي تناقض ، مسابقه اومبارزه ادامه ولري او دحکومت رئيس پراوضاعوباندي تسلط اوکنترول ونشي کولاي . شريعت چي کوم اختيارات زعيم اواميرالمؤمنين

ته سپارلي راځي داټول اختيارات دشريعت په رڼاکي همغه اميرته وسپاروچي ملت په خپله خوښه غوره کړيدي . ملت په خپله خوښه له اکراه اواجبارنه پرته له هغه سره

٦ مخ

هيبت الله اکبر

نصيراحمد " حادث "

تاج استکبار کزخون ضعيفان برسراست
چون زني باشد که باصدمرد اورابستراست
شيوه آدمکشي امروزمردم دوستي است
مستبد راجنگ مانند جهاد اکبراست
گرچه توپ وتانك راآوازمدهش داده اند
هيبت الله اکبرازمقام ديگراست
راکت وهاوان به معني جهل راثابت کند
گرچه درظاهرزشاه علم آنرافسراست
نسبت جرأت دشمنان راجنگ بااهل جهاد
نيست شيطان درگذرگاهي که راه عمراست
کشوردل پاك کن ازريب زيراآتشك
داغ بدنامي بودهرچند جايش مستراست
دين حق هرگزندارد اتحادي بافساد
هيچ ديدستي که زيرآب گاهي اخگراست
اينقدرلاف مروت لکه نامرديست
بوي بدبودست درجايي که سوزعنبراست
زينت آرايي نباشد راه ورسم اهل حق
مردنبود آنکه اندردست وگوشش زيوراست
شهرت نامردمان ازپاي مردان ميشود
ورنه هرصورتگرديگر مثال آزراست
باظواهر کي توان خودرابه معني دررساند
من اگرشمشيربردارم که گويد حيدراست
ازبدي طبع زيباراتوزشت انگاشتي
نيك بين باشد پياله اين گويي ساغراست
بحرناپيداي ايمان راخدا (ج) داند نهان
کشتي اسلام را ازنام احمد(ص) لنگراست
شعر "حادث" سربلندي مي کند درپاي عرش
ميرد جبرئيل تاجائيکه اورا شهپراست

خلق عظيم

استادبيرنگ

سخن راست شنيدن بکس آسان نشود
تاکه حرص وهوسش درته فرمان نشود
هرچه گفتيم و شنيديم همه برباد برفت
بي سخن هرکه سخن گفت سخندان نشود
آز مودم به دوصد مرتبه اسرار خودي
نفس اماره بالسؤ مسلمان نشود
زره بيني بنمايم به عيوب دگران
نقص خود در نظرم هيچ نمايان نشود
کميايست عجب پيروي بي خلق عظيم
ماوراي ادبش آدمي انسان نشود
روز مردن همه افسوس نمايند ولي
بجزازعاشق جانان که پشيمان نشود
آنکه پوشد سخن خود زحقيقت بمجاز
همچوتيغيست که درمعرکه عريان نشود
رفت بيرنگ چوحنااز کف من در غفلت
عمرشيرين که ميسربه هر امکان نشود

تينگ ايمان

امان الله نصرت

نورتواتحاد دمسلمان ته ضرورت دي
يوشي سره يوشي يوپيمان ته ضرورت دي
نشته دي سکون په هيڅ قانون کي بشريت لره
څکه نوقانون دپاك قرآن ته ضرورت دي
اي دآدم خويه دتوحيد جنده رپانده کره
خداپرو دژوندون دي ارمغان ته ضرورت دي
گوره غليمان دي فيصلي دتباهي کوي
دي سختو لحظوکي تينگ ايمان ته ضرورت دي
لارکي دمنزل څانته دوينو ډيوي بلي کره
خداپروقرباني دمال اوځان ته ضرورت دي
راشي چي يوغږ شويوقدم شويوترون وکړو
يوکړوکاروانونه يوساروان ته ضرورت دي
څويه اي نصرته دنفاق لمبوکي ژوندکوو
نورنوتينگ وحدت دټول افغان ته ضرورت دي

اتحاد

محمدکريم رحيمي

خدايه په مونږکي اتحادواقعي راولي
ښه محبت دمينې ډېره ارزاني راولي
داتيت پرك ټوټي ټوټي اودړيه درافغانان
په وعتصموا بحبل الله بې عملي راولي
ټول پراخته دخان ځاني په طاغوني مرض کي
زمونږ په منځ کي اخوت او وروروولي راولي
ښه اتحاد ، قوي سنگردټول ملك آرزودي
پوره آرزواودااِرمان په خوشحالي راولي
چي په يوه صف کي راټول مجاهدين کړي سره
ښه قومندان مونږ ته خالدياشيرعلي راولي
ريه مشران موکړي قانع اوقرباني ته حاضر
په قوم کي لويه متحده رهبري راولي
ترڅوبر اته په بل وطن خواروفقيريه يومونږ
رخپل وطن ته په عزت تلوآساني راولي
خدايه دښمن زمونږزبون کړي شرمنده په دنيا
د روآفت په ټول کفاروربتياني راولي
ټوله نړي کي کړي حاکمه د قرآن پيروان
اسلامي قوم ته په قومونو سرلوړي راولي
څوك دي په مياشسوکړل هلاك
حوك دي په نيل کي عرق کړل
دوخت فرعون باندي چپه ته طوفاني راولي
خدايه دټولوافغانانو سوال قبول کړي زرزر
په وطن عدل اوحکومت اسلامي راولي
نجيب تباه کړي دده گوند هم بي فکري ملگري
هم منافقوته په هرځاي رسوايي راولي
"رحيمي" ډېره کړي زاري دپاك الله دربارته
مولا په دي ځمکه قانون خپل آسماني راول.

ادب وعرفان اسلامی

ادب ،اسلامی ارځښتونه اودمهال غوښتني

ژباره محمد آصف صميم

اسلام په دي برخه کي ډيوه ځانگړي ارځښت لرونکي دي، چي دخپل پيغام دپشبړتيااوربښيوالي دليل بي خپل ادبيت وگاڼه . دقرآن دابلنه اوچيلنج چي داسي پوسورت (لکه دقرآن چي دي) وښيي براخي دخپلودهغه وخت مخالفينوته نه و، بلکي دراتلونکيو زمانوله پاره هم و، ځکه خود ځوارلس پيړيو په تيريدوسره سره هم هغه چلنج پرځاي دي . دقرآن کريم دغه بي ساري ځانگړتيادادي خبري ثبوت دي چي اسلام ادب ته څه ارځښت ورکړي دي!

دعنتره اوامراء القيس پرشعري تحليمّاتودرسول الله (ص) تبصري اودنبوي دربارشاعرحسان بن ثابت دشاعرانه فتوحاتو ستاينه کدله بوي خواادب دبي کچه اغيزاوهڅوني اعتراف دي، نوبل خوا ددي خبري څرگندونه هم ده ، چي اسلام ادب دمقصديت تابع گڼل غواړي، قرآن کريم په دي آيت (په نړي کي هغه غوره په نامي پاست چي دانسانانو دلارښوونې دپاره منځ ته راوړل شوي ده ، په نيکي امرکوي اودبدوکاروځخه منع کوي اوپرخداي ايمان لري) سره دمحمدي امت تعبيراودکچ ميچ څرگندونه ښه پ واگه کړي ده اواسلامي واکمنوته ، په واړکومي ويلي دي چي ټول ژوند موله عواملواوموثراتوسره په ورځني ژوندانه کي له واړه نه ترلوي فعاليت پوري دهمدغي عقيدي ، اهدافواوپيغام تابع اوسه . او همدغه پيغام دي، چي دهغوي پرټولو چارواوناسته ولاړه بايد خپوروي .

اسلام پربوه ځانله لاره دژوندانه گاډي چلول غواړي، نه په کي علم دعلم له پاره څه تصور شته اونه " دادب دادب له پاره په باب " .

ادب دلطيفه فنونو هغه ځانگه ده ، چي دالفاظو له ښکلاپزاړخ سره بي سروکارده ، چي دبنه څرگندوني باحسن اظهاراوښکلابيزذوق پيداکوني په نامه هم يادبيږي ، خوکه مقصد بي براخي ، خوندپاروته اولذت هڅونه شي، نواسلام بي بيابدگڼي، يعني اسلام دادب په دايره کي دڅينو ارځښتونو دخپريدوغوښتونکي دي ، اسلام بولړمعيارونه لري، چي په هغوسره دادب لوړي سمول غواړي .

له همدي ځايه ذهن ته بولړپيلابيلي پوښتني راولاړيږي ،چي آياادب هم څه هميشني اوجوت ارځښتونه لري ؟ اوکه وي، نوله اسلامي ارځښتونو سره څومره اړخ لگوي، او دمهال له غوښتنوسره ملي ترون څومره دي ؟.

په ادب کي دارځښت څېره ډېره لرغوني ده ، يوه ډله له هميشه داسي دغه ارځښتونه بدليدونکي گڼي . ددغه اندورد (طرزفکر) پلوسني مفسرداگڼي، چي داډلي ارځښتونو تاکنه دادب په عناصرو اوپنې سره کيږي، نوځکه پردي سترگي نه شي پټيداي ، چي ادبي ارځښتونه دټولو نوروټولنيزو ارځښتونوپه شان بدليدونکي دي دافکردارځښتو نودبرلاسي تصورنه منل دي ، که څه هم دهغه په آند (نزد) هر حقيقت انساني دي، بياهم پرخپل ځاي دانسان هره چاراوفکرديوه ټاکلي نظام اوفکر په رڼاکي دټاکليو حقيقتونو په خيرگڼلي دي .

کوم خلك چي دجوتو(ثابتو) ارځښتونو پروجود سترگي پټوي، هغوي به هم داومني، چي صداقت ښېگړه اوښکلا دريواړه په عمومي توگه دځانگړيو اوخپلواکوارځښتونو په توگه منل شري دي، کله کله داهم انگيري، چي ځيني ارځښتونه له منځه تللي دي، حال داچي بنيادي ارځښتونه هيڅ وخت له منځه نه دي تللي . البته ځيني بي کله کله ټپيري اونوريري سيوري غورځوي، چاپوه ښه پوښتنه کړي وه ، چي " که ارځښتونه هميشني اوجوت نه وي، نوځيني خلك بيا دټولنيزلوروځورودتاريخ دځينواضطراري ارځښتونو لکه عدالت ، زړه سري او...

ډپوهيدو .

هڅه ولي کوي .

په اخلاقي قوانينو کي درياضي اوطبيعياتو داصولو پرخلاف حيني استثناآت وي خوټول پوهيږي چي دغه قوانين ټولو منلي دي، يوه ځيرونکي ښه ويلي وچي که په ژوندانه کي دوړ اوناوړه پاره کوم نړيوال ميچ نه وي، نوبيا خودتاريخ غوښتنه اومطالبه بيځايه ده .

موړله دي نه څه درس وانه خيست اونه موپرماضي پيښي کومه تبصره وکړاي شوه ، بواولس دبل په خبره ونه پوهيداي شو، خوداسي نه ده ، دانسان څنه په هرمهال اوسيمه کي يوشان راغللي ده پر آفاقي ارځښتونو سترگي پټول دانساني نوعي پروحدت اوپوښت سترگي پټول دي.

زماني زړگونه ارخونه بدل کړي ، سياسي اوټولنيزويدلونونو نړي لاندي باندي اړولي، خوبياهم بيړونه داسي څه لاپاتي دي، چي دزماني توندي سيلي له ځايه ونه خوځولاي شول اوهماغه شان پرځاي ولاړدي، دميني اوښکلاکيسي، دهيلتون اووصال داستانونه، دنهلي ، محرومي اوويږ اودنياز اونيازنکلونه اوبلاخره دحسن اوعشق تولو کارخانه نن هم هغه ده ، چي زړونه کاله دمځه وه .

چي نه يار، نه مي زړگي ، نه مي ارمان بدل شو
انقلاب به څه متم ، چي داآسمان بدل شو

دآزاي، اوخپلواکي، انسان دوستي اوهبوادپالني ارځښتونه دهرمهال دلوښت او درناوي وړراغلي دي، داخلاص ، ښېگړي ، بخښني اوسربنډني غوتدي ارځښتونه په هرعصرکي دانسان امتيازي ځانگړني وي اودي ، اديب دځيغ وي اوکه دلوبديخ . له تورنسله وي، که له سپين، سره اوزيرځوموضوع بي همدا ارځښتونه وو، دټري دهراولس ادبيات چي واړوي ، همدا ارځښتونه به دټولو مهذبواولسونو پيژندگلي وي. همدا ارځښتونه په حقيقت کي دادب هميشني اوښيادي ارځښتونه دي، همدا ارځښتونه دي، چي زموږ ژوند پرمخ بيايي .

دساري په ډول عدالت داسلام يوسترارځښت دي، داسلام دعدالت داتصور دسيدقطب خبره په لنډه تنگه معني دکوم اقتصادي عدالت نوم نه دي، بلکي يوهرارخيزاوجامع انساني عدالت دي، دژوندانه ټول اړخونه اوهرواږچاري په دغه دايره کي راځي ، دغه (هرارخيزعدالت) پرفکر، عمل، ضميراووجدان ټولو خپورشوي دي، دهغه

په اقتصادي ارځښتونو پوري اړوندنه دي اونه براخي په مادي ارځښتونوپوري اړه لري ، پاپه بله وينادغه دعدالت دټولو مادي، معنوي اوروحاني ارځښتونوديوه ښکلي گډون اوامتزاج نوم دي . داسلام همدغي عدلي تصوردادب يومتوازن اورنگين اوښکلي تخيل وړاندي کړي دي

انساني عظمت ، مساوات ، نړيواله وروري اوانساني آزادي داسلام هغه ځانگړي آفاقي ارځښتونه دي چي دانسان ضميراووجدان ته دبشيري آزادي په وريخنلو سره بي انسان احسن تقويم ، گرځولي دي ددغوارځښتونو رغاوني اواتحورني چي اسلامي ادبياتوته داظهارکومه ښکلي اولطيفه بڼه وربخښلي ده ، هغه دادبياتوله بوه محصل نه هم پټه نه ده .

تلپاتي ارځښتونه دانساني عالم گډ ، تهذيبي پانگه ده ، دخواشيني خبره به وي ، چي حتي که دکوم ادب بنسټ پردغو نړيوالو اوهرارخيزو صداقتونو ولاړنه وي .

دنوبوعلوموله نسي نه چي کوم عقليت زيږيدلي ، دهغي ترټولو ستره غميزه داده ،چي دنوي شعورټول کچ ميچ بي په مادي نړي پوري محدود کړ دنولسمي پيړي بريند عقليت مذهب له اعتقادنه بيل کراودټولنيز واخلاقو رتبي ته بي راکيښت ، چي نتيجه بي په روانه پيړي کي دارځښتونو دکرکيچ دغه اوس ښه شوه، په دغه کرکيچ اوبحران سره اوس داخلاقي ارځښتونو راژوندي کول اوساتنه له منځه

تلاي شي . بايد ووايوچي دادب موضوع براخي ايجابي اخلاقيات نه دي، بلکي بريدونه بي ترسلي خواوپوري هم غځيدلي دي . همدا وجه ده چي ادب له ژوندرغاوني سره سره دشر، گناه اوبدشکلي دغوټواوموړي په جراحي عملياتوسره انسانيت له بي ډولي اوبدرنگي نه ژغوري . دهمدغو وجوهوله مخي په لويديزفکراوادب کي داخلاقو دراژونديتوب دغه غورځنگ راولاړشوي دي، چي نوي اومانيزم ورته وايي .

دزماني دغوښتنو تك وبريدټاکل آسان کارنه دي، خودومره ويل کيداي شي، چي ځيني خلك نړي ديوه ځانگړي دورسياسي اواقتصادي غوښتني مرادوي، ځيني نوريي بياله ادبي، هنري اوتهذيبي اوضاع سره يوشان گڼي .

خيرهرڅه چي وي، خودعصرغوښتني براخي دسياسي اوضاع نوم نه دي، بلکي دمعاصري زماني ټولوهغوحالاتو اواوضاعوته وايي، چي زموږ ژوندتري په مستقيم ياغيرمستقيم دول اغيزمن کيږي .

ممکنه ده چي اديب چي دټولني يورون ضميري ، حساس اوژوندي وگړي دي، دخپلي شاوخوا ټولني، نړي او دخپل عصرله غوښتنو په شعوري يانا‌شعوري ډول اغيزمن اومتاثرنه وي . داوخت چي موږله کومي وضعي سره مخ يواويه شاوخواکي موجي څه کيږي ، دهغوغوښتنه داده ،چي اديب باليکوال ، چي څه ليکلي ، هغه دي داسلام دسترواارځښتونو دپيژندني ، برسيروني اوسرلوري ښکارندوي وي .

پريکړه

ملنگيار

اسلامي توغه تااوچت ساتمه
دين اوهيواد پخپل همت ساتمه
دامي وعده ده ښه پري ټينگ يم زه
داتوري بريښ مي ترقيامت ساتمه
دهرزورگير دزورځواب ورکوم
يادالله (ج) دعبوديت ساتمه
دشهيد وينه مي ارزانه نه ده
دابه دځان په ټول قيمت ساتمه
بيابه دبدرتاريخي يادگارشم
پخپلو وينو خپل عزت ساتمه
دشهيدانو داميد په خاطر
جهادسنگريه خپل غيرت ساتمه
قسم مي کړيدي خلاصيږي به نه
خداي (ج) سره مينه محبت ساتمه
دعقيدي اودايمان په خاطر
دحق سنگرعزت اويت ساتمه
ددي وړو وړوبي پلاره بچو
ټول اميدونه سلامت ساتمه
شمله مي جگه ده تاريخ وايي دا
دپلارپټنگي دننگ حرمت ساتمه
يم مجاهد دحق سنگرله ميني
دپاك نبي (ص) پاك شريعت ساتمه

آزاده مرد

هجري

داناځنگه دجهان له کاره سردوي
چي الم بي لکه بادخوبي بي گردوي
آه وسوزمي باطل مه گڼه درويشه
سترگي هله کاڼړاچي زړه په دردوي
تخت وتاج ته به سرکوز دهمت نه کا
چي په دادده‌هريوه آزاده مردوي
هغه مردچي په دغل سود وسوداکا
په مجلس چي دحق ورشي مخ بي زردوي
په حساب دفرزانه ترگاويتردي
هرچي تل په فکروب دآب وخوردوي
گردنده گردون چکيږسري دانه شو
لاپه زمکه قرارنه بدن بي اردوي
دامحال دي چي شاعربه په پښتوکي
بل " هجري غوندي په فن دشعر فردوي

چيرته وي ؟

قاطن

په موريل چي شول اورونه چيرته وي ؟
دباران په څيريونه چيرته وي ؟
ولي ولي شاه زلمي ژوندي په گورشول
گرځيدل چي پري ټانگونه چيرته وي ؟
ميندي يوري، ځواني گونډي خويندي ژاړي
جوړيه هرکورکي ويرونه چيرته وي ؟
اسلامي حجاب چي شوترپښولاندي
په ملت چي شول ظلمونه چيرته وي ؟
کوروکلي، ښار، جومات موکنډواله شو
تري اوچت گرداودود ونه چيرته وي ؟
دتوحيدبيرغ چي پورته په جهادشو
پري کباب شول زخمي زړونه چيرته وي ؟
بي غيرته په تياره راپيداشوي
غنډه خيته پلن غوزونه چيرته وي ؟
ته لااوس هم دحلواپه ته ناست يي
شي به مات پري ستاغابونه چيرته وي ؛
"قاطن" وايي دشاهي مزه په خوله کي
ويه نکري بيا امرونه چيرته وي

ديتيم آرمان

محمدعارف " رحيمي "

تلرم پلارومور، شوله مي خيمه سوراور
کرمه ديختي آرمان ، شوم دتنورسوي سکور
نورخلك بنگلي لري، لويي قافلي لري، هره خواميلي لري
زه يم دهجرت داعي ، زړه مي ځوله ژونده تور
کرمه ديختي آرمان شوم دتنورسوي سکور
څوك ځي امريکالره ، څوك ځي اروپالره ، څوك ځي تماشاه لره
خوريږ مي ټول بدن شولو، نشته دي زماغمخور
کرمه ديختي آرمان شوم دتنورسوي سکور
چاته داگيله وکړم ، چاته داقيصه وکړم، چاته عريضه وکړم
تلي مي پولي شولي ، گرزم وږي تري کور
کرمه ديختي آرمان شوم دتنورسوي سکور
خويندي مي ژړاکوي ، ويردخپل آغاکوي ، نورخلك خنداکوي
پروت بي سرنوشته يم، دي زماکالي په پور
کرمه ديختي آرمان شوم دتنورسوي سکور
څوك اركنډيشن لري، سپين نازك بدن لري، څه غم دغمجن لري
گرزم ليوني غوندي سوزم دغمويه اور
کرمه ديختي آرمان شوم دتنورسوي سکور

نعت

نظامي گنجوي

فرستاده خاص پروردگار
رساننده حجت استوار
گرامايه سرتاج آزادگان
گرامیترازآدمیزادگان
ضمان دارعالم سیه تاسپید
شفاعت گرروزبیم وامید
درختي سهي سایه درباغ شرع
زمیني باصل آسماني بفرع
چراغیکه تااونیفروخت نور
زچشم جهان روشني بوددور
خراج آورش حاکم روم وري
خراجش فرستاده کسري وکي
محیطي چگویم چوبارنده میغ
بیك دست گوهربیك دست تیغ
به گوهرجهان رابیاراسته
به تیغ ازجهان داددین خواسته
کلید کرم بوددربندکار
گشاده بدوقفل چندین حصار
زمعراج درشب ترکتاز
معرج گران فلك راطراز
شب ازچترمعراج اوسایه
وزآن نردبان آسمان پایه

حنگه حالاتوته وسله کیرمه ؟

حمزه بابا

بي بدرگي غوندي کاروان یمه زه
غزدجرس غوندي پریشان یمه زه
حیف دي چي نن هغه افغان یمه زه
چي په خپل قام باندي تاوان یمه زه
ځوچي گذار خوري هومره لاشي قوي
ماخویه وي هغه سندان یمه زه
هغه ساده مسلماني مي ځه شوه
دآیني غوندي حیران یمه زه
گران ومه ځومره چي آسان لیده شوم
ځومره چي گران ومه آسان یمه زه
په لیونوکي هم حساب نه شومه
هسي عبث ځیري گریوان یمه زه
ځوك افسانه دبي ننگي چي لیکي
هم بي کردارهم بي عنوان یمه زه
خونه ، ځلانده ستوري اوس هم لرم
په لوړهمت لکه آسمان یمه زه
په تغیرکي که مکان بنکارم
خوپه تمکین لکه زمان یمه زه
ځنگه حالاتو ته وسله کیږدمه
وایه انسان اوکه حیوان یمه زه
دنن سبا په گیرکي نه راځمه
بس دماضي غوندي روان یمه زه

نوکرمقهور

محمدامان فارغي

بازظاهرکرده بیرك طلعت منفوررا
تابراندازدنجیب این ناخلف مزدوررا
گرچه هردوخواجه تاشانند مریك خواجه را
نوبت کشتن رسیده این ددرنجوررا
بازآن دزدقدیم آمد که چون ایام پار
برکشدازجیب مردم ثروت موفوررا
بازازکان ذغال آمد برون آن سنگدل
روس گویا عفو کرداین نوکرمقهور را
درفن دزدي زبیرك هیچ کس بهترنیافت
زانکه اوبهتربداند راه ورسم چوررا
گفت اي نوکر برو درکشور افغانستان
بازهم چندي ریاست کن توآن جمهوررا
گرچه خودداني که چیزي بیش ازنوکرنه یي
لیك برتومیگذارم شهرت مذکور را
نیزمیداني که رفته تاب وطاقت ازنجیب
بسکه خورده ازمجاهدضربه هاي زور را
میکنیم هرگاه وبیگه نوکران راامتحان
تاکدامین خوبتراجراکند دستور را
تاکه مردم رانباشد فرصت همبستگي
وضع کن درهرزمینه مشکل سانسور را
لیك ازقهرمجاهد برحذرباشي که اوست
همچو شاهیني که درجنگ آورد عصفور را
بعداً ستانبوسي قصرکرملین آن خبیث
آمده تاعرضه دارد خدمت منظور را
ازمزاج سردنامردان مجو ذوق نشاط
بهره ازگرمي نباشد طینت کافور را
همتت رانازم اي مردمجاهد کزثبات
خوب بشکستي غروردشمن مغرور را
زخم دشمن راچنان ناسورکردي کوبزد
تابه یوم ینفخ في الصوراین ناسوررا
من سرت گردم بکن یکبارهدیگرجنبشي
پاك کن ازلوث دشمن خانه معمور را
درطریق یکدلي دایم برید اینهابکار
سعي مزمن، جهد ممکن ، کوشش مقدوررا
سازماني کزملل دم میزند وزصلح نیز
ازمن اي پیك صبا گوآن دژمحصوررا
ادعاي صلح خواهي گرتراباشد درست
پس چرابکسان به بیني جابرو مجبوررا
بامن این راز نهاني رابگواي سازمان
محتوائي جزفریبت بوده گرمنشور را
گرترابارای تأمین عدالت هیچ نیست
بي جهت صبح ومسا هردم مدم شیپوررا

نقض میثاق

مثنوي معنوي

نقض میثاق وشکست توبها
موجب لعنت شوددرانتها
نقض توبه وعهدآن اصحاب سبت
موجب مسخ آمدواهلاك ومقت
پس خداآن قوم رابوزینه کرد
چونکه عهدحق شکستند ازنبرد
اندراین امت نبدمسخ بدن
لیك مسخ دل بوداي ذوالفطن
چون دل بوزینه گرددآن دلش
ازدل بوزینه شد خوارآن گلش
گرهنربودي دلش رازاختیار
خوارکي بودي زصورت آن حمار
آن سگ اصحاب خوش بدسیرتش
هیچ بودش منقصت زآن صورتش
مسخ ظاهربوداهل سبت را
تاببیند خلق ظاهرکبت را
ازره سرصدهزاران دگر
گشته ازتوبه شکستن خوك وخر

طلوع سحر

"طارق"

هلا بخیزکه فریاد تازه مي باید
شب سیاه ستم راسپیده مي باید
مجاهدان وطن سالهانیاسودند
براي عزت دین خداي کوشیدند
علم زخاك شهیدان خودبپاکردند
به موج خون شهیدان خودشنا گردند
چه رنجها که درین راه پرخطر دیدند
زدوست ودشمن وهرپاربي بصردیدند
گروه گروه به یاران رفته پیوستند
زراه فتح طلسم سکوت بشکستند
سرودعشق زحلقوم قرن سردادند
زشام تیره طلوع سحرخبردادند
که تابخون کشیدند غول وحشي را
به نیستگاه سپردند رسم روسي را
کنون زدام دیگرراه خانه مي باید
دل سیاه "سیا" رانشانه مي باید
که بازفاسدبگذشته رهنمانشود
وطن به داغ چهل ساله مبتلانشود
براي خاطرمحو ستمگران وحدت
براي کوري چشم منافقان وحدت
براي خاطرختم حکومت مزدور
براي یاري خیل مهاجران وحدت

تبربرفرق بتان

خوبجه حمید فارغ التحصیل پوهنځي شرعیات پوهنتون دعوت وجهاد

تبربه فرق بتانم خداخداي من است
به بحرخون به ره حق کنون شناي من است
روان به راه خلیلم بتان براندازم
جوان بت شکنم این صفت براي من است
جهان رهاکنم ازبندگي بت صفتان
چنین ندا زجهاد چهان گشاي من است
درین مسیرکه بي پاوسرروان شده ام
خلیل باتبرخویش رهنماي من است
سعادت دوجهان درجهاد راه خداست
فلاح هردوجهانم کنون رجاي من است
شکست ناشکتانرا کنون تماشاکن
که حاصل عمل قوم بي نواي من است
زدست من به فغان است طاغیان زمان
بهادران جهان جند مصطفاي من است
شراب نعره تکبیربرزبان دارم
که مست عشق خدایم همین هداي من است
ببین جهادکتاب وخطاب وسیف وقلم
عجب فریده، گنج گرانبهاي من است
منم محصل پرشوروپاسدارجهاد
عروج طائر پیکاربرفضاي من است
بخنجرم بدرم قلب دشمنان جبون
سرودرزم وجهادم چه خوش نواي من است
زنم بگردن اصنام شرق وغرب کنون
که مرگ دشمنم ازساعدي فتاي من است
مکرراً بسرایم بصوت ملتهبم
تبربه فرق بتانم خدا ، خداي من است

خانه دل

ازکلیات شمس تبریزي

مستان جام عشق که لاف ازلقازنند
جان رادهندوخیمه بملك بقازنند
خوش ساعتي که ازدل شوریده عاشقان
لبیك عشق درحرم کبریازنند
کروبیان بناله درآیند نیم شب
چون بیدلان زدرد وغمش ربنازنند
پاکان راه فقرزخمخانه الست
جامي چودرکشند دم ازاصطفي زنند
آنها که روزخانه ندارند برزمین
شبها بنورعشق قدم برسمازنند
آنهاکه سوزسینه ندارند وشوق یار
در روزحشرنعره واحسرتازنند
قومي که هردوکون بیکجوئمي خرند
ایشان دم ازمحبت دنیاکجازنند
شاهان صلاي نعمت دنیا زنند لیك
مردان دم ازمحبت وعشق خدازنند
عشاق خسته خانه دل رابهرزمان
ازهرچه ماسواست بجاروب لازنند
اي شمس دین چنانکه توسرمست حق شدي
سبوحیان قدس ترامرحبازنند

کډۍ موبه صده کي پاتي دي

محمد عارف "ننگیار"

هغه چي په ځومره انسانیت اوخوږه ژبه خپله کیسه وکړه اومایې هم بنکلي ځواني، نوي جامي اونورلین، دبن ولید، نوبوره باورمي راغلوچي سري ربنتیاهم مجبوردي، جیب ته مي لاس کراودوه لس گون نوټونه مي ورته ونیول او ور سره مي بښنه هم تري وغوښته ، چي ډيري نه لرم کنه ستاخودیرځه حق وو .

هغه دعاوکړه او روان شو، نوله لارمي دهغه دمجبوریت په باب سوچونه کول چي ته وگوره دي خوارته ، کله اوکوربي په "صده " کي پاتي اودي دلته یوي روپي ته حیران دي اوبیابیمارهم ورسره دي . ماویل کاشکي خومي دومره درلودلي چي هغه دلاري کرایه خومي ورکري واي .

په سبایي بیادسرك په غاړه روان وم ، په تاون کي مي ځه کارۋ، ما ویل راځه په چکر، چکر به لارشي، لیږه دي پښي وغوربيږي اوځه به دماغي تفریح شي . جهانگیرآباد ته به نه وم رسیدلي چي بیابوځوان ودرولم ، ښه تودروغبړیي راسره وکړ، خداي شته چي په زړه کي ډیرخجله شوم، ماویل ته وگوره پیژندوي سړي مي ونه پیژانده ، زړه مي راغوندکړچي ښښه تري وغواړم اوپوښتنه تري وکرم چي ورووه ومي نه پیژندي ، خفه نشي نه ځوك يي، خوماچي ترځوخوله بیرته کوله هغه وارراباندي روميي کراووبي ویل؛ والله ورووره که به درته ویلاي هم شم خوځوان اوبښتون راته ښکاره شوي ، ماویل راځه مهاجر وروومي دي، زموږ خوداکډي په "صده " کي پاتي دي اومابوبیمارراوستلي په شیرپاو هسپتال کي بستري دي، اوس خداي ومنه که به یوه روپۍ هم لرم ، بیمارته دویښي ضرورت دي، نوکه دي ځه په وس وي خداي به بي اجردرکړي، کنه سوال خوحرام دي اوباوروکره چي ډیرشرمیږمه هم !

یودم مي زړه داده شو اوشکرمي ویست چي ځه ښه ده کوم آشنا خونه ۋ او ورسره مي هغه پروني ځوان هم سترگوته ودریدچي کټ، مټ بي لکه دده غوندي ځبره ، خواني، فیشن اودسوال کولو طریقه درلوده ، ولي بیامي هم زړه پري وسوځیده ، یوه روپۍ مي ورکړه اوتري وخوځیدم .

له هغه راورووسته بیاهره ورځ له دغسي ځوانانو سره مخامخ کیدم چي هریوه به ویل: والله وروره کډي موبه "صده " کي پاتي دي اوبیمار مي په شیرپاوهسپتال کي دي، دلاري کرایه نلرم که ځه مرسته راسره وکړي . خو ماته هم دایقین شوي و چي کسان ښه چالاکه دي اوغواړي پدي نوي طریقه یعني دخاني اوحراني په جامه کي دسوالگري مفته اوآسانه روزي ترلاسه کړي اویدي ډول زړه سواندي مهاجردوکه کړي .

نوچي بیا به بي ترځودرولم اوستړي مه شي ،خواره مه شي بغیي راسره کوله تري تیریه شوم. ولي ددوي په باب مي دزړه سوداونه وتله ،ځکه ماویل کیداي شي یونیم به یي ربنتیا هم مجبور وي ، په تیره ځینو خوبه زړه مور، وروکي خور اویا یوواپلارهم له لاسه ورسره تیولي و اوویل به بي چي دا ادي مي بیماره ده ، کډي موبه (صده) کي دي اوس نه دلاري کرایه لرراونه دووډي پیسي ،که ځه دي په وس وي.

یوره دوه کاله کیږي چي دغه کسان وینم چي نه یي کډي له (صدي) راغلي ،نه يي بیماران له شیرپاوهسپتال نه خارج شول اونه هم دوي ورغلل! داکیسه مي یووروته وکړه ،هغه وخندل ویل یي ته هم عجیب سړي یي !

دهغوي کورونه خودلته په ارباب روداونشاط میل کي دي او داپي دسوال نوي طریقه رااېستلي گني ترما اوتایي ژوند ډیرښه دي ، زیاتره خوبي لاتجاران هم دي ! زړه مي ونه منله . ورته ومي ویل چي نه یي منم؛ ،هغه راته ویل راځه چي نه یي منې ، له لاسه يي ونیولم اونیغ يي هغې کوڅې ته ورووستم چیرته چي ربنتیا هم همدغه د"صدي" مسافر اوسیدل.

هغه یوه کورته لاس ونیو ، ویل یي دغه کورهم دهمدغودي ،یقین مي رانغلو ماویل دادومره بنکلي اودگراني بیي کور اوداسوالگر!!

پدي سرچ کي دم چي له کوره هماغه ځوان راووت چاچي دوه ورځي مخکي په ارباب رودکي درولي وم اوخپله دمجبوریت اومسافري نغمه یي راته اوروولي وه .

کله مي چي سترگي پري ولگیدي ، پري زیغ مي کړماویل وروره لکه چي کډي موله "صدي " نه په خیر راورسیدي !! هغه چي زه پیژندلي وم ټومسکي شو اوځواب یي راکړ ؛ ویل چي داسي ونه وایو والله که به ځوك یو " ټیډي " هم راکړي .

ربنتیا چي یي اضافي خپل اوج ته رسیدلي اویه داسي حال کي به ځنگه ځوك دمجبوراوکاسب توپیر وکړي .داسي چي تجاران هم سوالگرشي!!

خونوم یي مه اخله

عبدالباري "غیرت"

داختر په وروځوکي یودوست په مخه راغي ، روغبړ اوعیدمبارکي موسره وکړه . ماسته ورته وکړچي څه کورته ولاړشو ، هغه وویل : زه همدااوس دتاکورته درغلي وم خوتاتشریف نه درلود او اوس دادي دبنه تصادف له امله په مخه سره ورغلو ،بیامي پوښتنه تري وکړه چي سیاسي فضا ځنگه ده ؟

هغه وویل چي دموږ دبي اتفاقي دلاسه دادي ظاهرشاه راروان دي اوهیڅ بي اسلام آباد اوبیښورته رارسیدلي اویودفتربي هم پرانستي دي ترځوخپل پلویان معلوم کړي . ده ماته وویل چي : تابي له هیڅ سره کتلي نه دي ماوویل : زه خداي (ج) دومره نه یم خوارکړي چي دهغه له هیڅ سره وگورم . ماته خداي (ج) تعالي یواسلامي غروروراکړي دي اویه لوي خداي مي توکل دي . بیامي ورته وویل چي : هغه دي په یاد دي چي وظاهرشاه په دوران کي دي یوشعر لیکلي ۋ اوهغه ته په یوبیت کي دي داسي ویلي وو.

دشاعریه دي خبروکه ځان کون کړدیو الاتو

نویس تاته مي خطاب د ي اي دیوال صاحبه گوره

ده وویل چي هوا ښه مي په یاددي دایي لاځه چي دوطن لوي شاعر اودتولني ربنتیني عکاس اومثل گل پاچاالفت د هغه وخت زمامداران ظالمان بلل اوداسي یي ویلي دي،

(تعبیریي کري مایه ظالمانو به چیه شي -

چیه کاکل مي خوب کي دجانان لیدلي دي،

داتوره شپه به خداي کاندي په موږباندي سبا

سپین مخ چي مي سبا غوندي روښان لیدلي دي

خوخبره داسي ده چي ته ښه پوهیږي دمجاهدینوضعه داسي ده چي ان ترروهبرته پوري ددي ترمنځ جنجالونه دي

اوحتي تر اوسه پوري یي داسي سمه دحل لاره نه ده پیداکري چي ولس ته پري قناعت پیداشي، خداي دي په مسلمانانو باندي ورحمیږي ،بیاده زیاته کره چي هغه بله ورځ مي یودوست ولید اوهغه یوبااحساسه ،بادرده اومتعهدمسلمان دي

هغه ته مي وویل چي : خبرته یي ظاهرشاه راروان دي . هغه سوراسویلي وکیښ اودجهاد ستونزوته یي گرته ونیوه ویي ویل چي : خداي دي مجاهدین سره یوکړي . خداي دي قیادتونه سره متحد کړي.

خداي دي اسلامي حکومت په مظلوم اودربدرافغانستان کي پلي کړي اوکه نه نود فراري ظاهرشاه چي دادوولس کاله دجهاد له حالاتو ناخبره ،دملت له ربړي اوستونزي ناآگاه اویه مستي اوعیاشي کي له وطن نه ډیر لیري پروت انسان په باب دیوي توکي په توگه پهډیرافسوس ښایي ووایم چي :

راباندي وایي چره خونوم یي مه آخله

ماسکو اوس دي خبري ته تيار شوي چي دنجيب نه لاس واخلي ...

بيعت کړي اوپه هغه اعتماد کوي . زه وايم راځئ داسي يوحکومت جوړکړو. موږ ديته تيار يو.

زه بايد په صريح‌الالفاظو سره ددغو ورونو په مخکي يوځل بيا دا خبراعلان کړم . چي موږ له الله سره پدي خبري باندي تعهد کړي . کومه ورځ چي مو دجهادلاره داسلامي حکومت دجوړولو لپاره غوره کړي اوددي لپاره مومپلاتړلي، نوله الله (ج) سره مو پردي خبره تعهد کړي و چي داسلامي حکومت نه به په راګم شي نه راضي کېږوترڅوچي يواسلامي حکومت جوړکړي نه وي، وسله به پرځمکه نه ږدو له خپل ملت اوولس سره به خيانت نه کوو، له خپلوشهداء اومجاهدينوسره به خيانت نه کوو.

له بهرنه تپل شوي حکومتونه به نه منو، که داحکومتونه هرڅوک زموږ له پاره جوړکړي . ددوستي ترنامه لاندي اوکه په دښمني سره موږبه له بهر نه تحميلي حکومتونه ونه منو. ترهغه به خپل جهادته ادامه ورکوو چي دمسلمان ولس په خوښه يواسلامي حکومت جوړشي .

موږبه دهربهرني اوداخلي سازش په کلکه مقابله وکړو. په جرئت به دهغه په خلاف خبري وکړو. که څه هم ټوله دنيا موږباندي پريږدي اوزموږ په خلاف سره متحدشي . ددي پروانه لروغواړوپه خپل دي عهد، له الله (ج) سره وفاوکړو. ددي پروانلروچي محاصره به شو، تجربه‌به شواوزموږپه خلاف به ټورملکونه متحدشي اوله ګړاوونو سره به مخامخ شو، موږالله ځان ته کافي ګڼو. دالله په اعتماد اوتوکل موداجهادپيل کړي اوهغه (ج) موږته کافي دي . موږدهغه په اعتماد موږخپل جهاد ته ادامه ورکوو، دخپل مرګ ژوند مالک خپل خداي ګڼو، دعزت او دذلت مالك خداي ګڼو، شکست اوکاميابي دهغه په اختيارکي ګڼواو هغه (ج) پرهرکارقدېراوتوانابولو.

موږداجهاد دالله (ج) په اعتماد پيل کړي او دهغه په اعتمادبه دي جهادته ادامه ورکوو. ډېروته زموږجهادله ابتدا نه ليونتوب اوجنون معلوميدو چي دظاهرشاه په خلاف موږمتحدکيدو اوبيرغ موااوچتولو، نوزموږداکارډېروته جنون معلوميده . چي دداؤد په خلاف موږوسله اخيستله ، نوډېرو زموږدااقدام ليونتوب ګاڼه چي دتره کي اوداmين په خلاف موږوسلوال جهادپيل کړ . دروسانو مخي ته ودريدلو اوباوروموددرلود چي الله (ج) به موږته فتح راکوي اوروسان به له شکست سره مخامخ کيږي زموږپردي خبرو ډېرواستهزا کوله . ولي موږباوردرلود چي الله (ج) په خپلو وعدوکي رښتيني دي اودمومنانو سره چي الله کومه وعده کړي هغه به ترسره کيږي . والله چي ماپردي خبره باوردرلوده، چي روسان به شکست خوري . ماچي کله هم دفتحي اوډېري خبره کوله نوددوکي اودقريب نه وه ، دامي دزړه ندا اوفرياد و. دامي دخپل يقين باوراوايمان نه راولاړه شوي خبره وه . چي په کوم تاکيد، باوراودادسره مادروسانو په خلاف دفتحي اوډېري خبره کوله . نودازمادزړه اودايمان نه راولاړه شوي خبره وه . پدي ماباوردرلوداواوس هم پدي يقين لرم چي الله به ددي جهاد خلاف ټول سازشونه خنثي کوي .

الله (ج) به ټولي توطئي شنډوي اوزموږ ددي شهداؤ وينې به نه ضايع کوي . په افغانستان کي به ان شاء الله دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړيږي . موږدژنيو دمعاهدي هم مخالفت کولو. خلك ډېروپريدل ، دمجاهدينو له منځ نه هم ځيني داسي وو چي ددي معاهدي تاييد بي کاوه خوموږويل چي دژنيو دمعاهدي له لاري نه سوله نشي راتلاي . له ډېروسره داويره وه چي مبادادمجاهدينواودپاکستان دحکومت دموقف ترمنځ تصادم اوټکررامنځته نشي اوکه دااختلاف راپيداشي نومجاهدين به څه کوي ؟

ولي موږچي پرالله مواعتماد و. ددي پروامونه درلوده . ويل موچي دژنيو دمعاهدي له لاري نه دافغانستان مسئله نشي حل کيداي، هماسي وشول ټولوته ثابته شوه . دژنيو معاهده هسي يوه دوکه وه اوروسانوغوښتل چي خپل شکست ترددي پردي لاندي پټ کړي اوله افغانستان نه خپل وتل چي دهغوي دشکست په وجه وو داسي وښيي چي دروغجن جوړي اوصلحي دمعاهدي په نتيجه کي له افغانستان نه وتلي دي .

ورونو ا اوس يوځل بيا په دغوتوطئوکي ملوث اړخونه دا تبليغات کوي چي بنيادګرايان اوهغوي په راس کي حزب اسلامي صلحه نه غواړي . وايي هغوي دصلحي اوروغي جوړي په وړاندي خنډشوي .

خوزه په واضح الفاظو سره وايم چي موږله هرچانه زياته اوترهرچادمخه صلحه غواړو، خوږه واقعي او پايداره صلحه . واقعي صلحه هلته راتلاي شي چي بهرني مداخلي بندي شي . دبهرنيولاسونو په وسيله تپل شوي حکومت ختم شي . بياله بهرنه زموږپه ملت باندي دتحميلي حکومتونو دتپلوهڅه ونه شي، زموږملت پريښودلاي شي چي دخپلي عقيدي په رڼاکي دخپلي خوښي اسلامي حکومت جوړکړي . دبهرني فشاراومداخلي نه پرته . پدي ترتيب به افغانستان کي

که اوس يوقوي وحدت ممکن نه وي، راځئ پرمشترکو عملياتو توافق وکړو

واقعي صلحه راتلاي شي . دصلحي له پاره قرآن عدل او قسط شرط ګڼي . دعدل اوقسط نه پرته صلحه نشي راتلاي . هغه صلحه داسلام په معيارونو کي هيڅ ارزښ نلري چي په هغه کي عدل اوقسط نه وي تأمين شوي . زموږعقيده داده چي له عدل اوقسط نه پرته صلحه نشي راتلاي . څوك چي ځان مظلوم ګڼي نوکه هغه تسليم هم شي اوډچالبصله هم ومني، خوديته به منتظر وي چي مناسب فرصت لاس ته ورشي اوخپل حق ترلاسه کړي . موږ واقعي ، پايداره اودوامداره صلحه غواړوا موږ دجنګ دادامي باعث نه يو، مجيب دي . داجنګ له بهرنه پرموږباندي تحميل شوي . داجنګ دهغو واکدارانو په لاس پرافغان ولس تحميل شوي چي کمونستان بي په خپله خبره کي ورووړل . پوځ بي روسانوته وسپاره دپوځ تربيت ، تسليح اوتجهيز روسانوته تسليم شو. دغومفسدو واکدارانو په افغان ولس داجنګ تحميل کړي . همغه واکداران چي کله کمونستان (ددوي په لاس رووړل شوي وله) پرافغان ولس تحميل شوه نو اروپا اوامريکا ته بي ثبيته وکړه اوپه

دکابل رژيم اوس دجنګ لپاره په کرايي مليشه ومتکي دي

دغو دبارلسو کلونو کي بي دجنګ دخاتمي لپاره هيڅ ونکړل . دملت په ځنګ کي ونه دريدل . پريتيم ، کونډي اوزخمي بي دنوازش لاس راکښ نکړ خوارس چي امريکا اوروس په شا باندي ټپولي اوهغوي بي دي ته اړکوي چي دافغانستان په قضيه کي دهغوي دخوښي رول اداکړي . راوړاندي شوي او دروغجن جوړي خبري راوړاندي کوي اومجاهدين پدي متهم کوي چي دوي جنګ غواړي ، دوي دصلحي مانع دي . موږخوداديارلس کاله جنګ ددي له پاره کړي چي ددي جنګ په نتيجه کي شخړي پاي ته ورسيږي او په افغانستان کي واقعي صلحه تأمين شي، موږخوددي جنګ ستونځي اوکړاونه په همدي خاطر ګاللي دي .

شهيدان موږهمدي له پاره ورکړي چي داجنګ پاي ته ورسيږي اوواقعي صلحه په افغانستان کي تأمين شي . دجنګ دادامي باعث روس اوامريکا دي ، چي غواړي دخپلي خوښي حکومت پرافغان ولس تحميل کړي اوکه په دي ترتيب دهغوي دخوښي حکومت په افغان ولس تحميل نه شي نوله افغانستان نه لبنان جوړکړي دوي دهمدي لپاره لګيادي . له افغانستان نه لبنان جوړول غواړي .

که مجيب له اقتدارنه لاس واخلي روسان هغه ته وسله ورنکړي . امريکا دافغانستان په داخلي امورواتو کي مداخله بنده کړي، دخپلي خوښي دحکومت دتحميلولو کوشش ونکړي ددي له پاره توطئي ونکړي اوزموږ ملت ته دخپل سرنوشت دټاکلو موقع ورکړي . پخپله به جګړه پاي ته رسيږي اوصلحه به په افغانستان کي تأمينيږي .

که چيرته کومه طرحه دجنګ دپاي ته رسولو له پاره په همدغواصولومبتني وړاندي شي نوترټولونه دمخه به بي موږومنو. داداسلام اوزموږدملك اوملت دښمنان دي چي باغواړي ددوي دخوښي حکومت موږومنو اوياداچي خامخاپه افغانستان کي بايد جنګ ادامه وکړي . دوي نه غواړي چي په افغانستان کي دملت دخوښي يواسلامي حکومت جوړشي .

ورونو ا زه تاسوته اطمينان درکوم چي ان شاء الله داټولي توطئي به خيرالماکرين خداي شنډوي هغه څوك به ډېرو ساده وي چي ګومان وکړي له مجيب سره ائتلافي حکومت ممکن دي ياظاهرشاه کولاي شي پرافغانستان حکومت وکړي .

پادمجاهدينو دخوښي اوموافقي نه پرته څوك په افغانستان باندي حکومت کولاي شي . زه هغه چانه ډېرحيران يم چي ګومان کوي دافغانستان ددي قضيي اودافغان ولس سرنوشت کيداي شي له ملك نه بهرډېرو جلسوپه ترڅ کي ددي اودهغه ملك دسازشونوپه نتيجه کي وټاکلي شي . داوخت نووږتل له پاره تيرشوي . دافغانستان قضيه به ان شاء الله دافغان ولس په خوښه په داخل دافغانستان کي اودجګړي په ميدان کي اودمجاهدينو په لاس حل کيږي .

هيڅوك لدي نه پس ان شاء الله نشي تواتيدلاي چي دپرديو دخوښي حکومتونه پرافغانستان تحميل کړي .

ورونو ا داقوم ستاسوترشا ودريدلي . نن ددي ولس قيادت اورهبري ستاسو په لاس کي ده . ستاسو دقيادت اورهبري لاندي دي قوم قرباني ورکړي . يو نيم مليون شهيدان بي ورکړي ټول ملك بي وران شوي . ستاسو ترامامت لاندي دي قوم ددي دبارلسوکلونو جنګ ستونځي اوکړاونه ګاللي . دا به کمال دضعف وي، بي همتي او بي غيرتي به وي، چي دافغان ولس قيادت اوس ددغه مشرتابه اوقيادت نه واخيستلي شي اومفسدوتيرو واکدارانوته انتقال شي . دازموږ وظيفه ده ، داستاسو علماووظيفه او الهي مسئوليت دي چي افغان ولس راويښ کړي . ولس په دي حقائقو اودوښمن پدي توطئو اوسازشونو پوه کړي .

دښمنان اوددوي سازشونه داسلام پرخلاف اودمجاهدينو پرخلاف بريښوکړي . هغه خبري بريښوي کړي چي دملت په خلاف پدي سازشونوکي ملوث دي اوداسلام په خلاف ددي سترجنايت اوخيانت مرتکب ګرځي .

بايد پرينږدوچي اقتدار يوځل بيا مفسدينواوبيدينه ملحدوواکدارانوته وسپارل شي اودهغوي په لاس کي پريوځي .

خداي دي نکوي که موږ دا غلطي وکړه اوزموږ دبي همتي په وجه دعدم اعتنا په نتيجه کي يوځل بيا قدرت هغومفسدو واکدارانو ته په لاس ورغي بيابه علماء، سپك اوذليل وي اوددوي لاس ته اړاومحتاج ا هغوي دښمنان همدا غواړي، دښمنان له دي نه ويريږي چي داسلامي امت قيادت دي په دين پوهومجاهدو مسلمانانو علماؤ په لاس کي وي . دوي په اسلامي نړي بي دينه، بي هدفه له ملت نه ژتل شوي، بي عقيدي شخصيتونه تحميلول غواړي . دوي دغسي حکومتونه غواړي چي اقتداربي ددغسي ځبرويه لاس کي وي . بايد اقتدار صالحوافرادو ته وسپارو. ولس بايد ديته تيارکړو چي له اسلامي حکومت نه په بل څه راضي نشي . اسلامي حکومت هلته راتلاي شي چي قيادت صالح اوباايمانه افرادوته وسپارلي شي . ددښمنانوکوښښ دادي چي دعلماووهغه نقش او حيثيت چي دجهاد په نتيجه کي بي په خپل ولس کي ترلاسه کړي داختم کړي .

دوي دقيادت له مقام نه عزل کړي . ددوي په باب همداډهنيت راپيداکړي چي دوي دقيادت رهبري اوامامت ورلو جوګه ندي . دوي په جوماتونو کي لمونځ ورکولاي شي خوملت سياسي قيادت اواجتماعي قيادت په لاس کي نيول دا ددوي کارندي . داهغومفسدو واکدارانوکاردي چي دغرب اوشرق په لمن کي رووزل شوي دي .

دوي غواړي چي په ملت کي همداسي ډهنيت راپيداکړي . دوي دملت درهبري ، امامت اوقيادت واګي زرومفسدواوبي دينه سياستمدارانوته سپارل غواړي .

ورونو ا داسلام په خلاف غرب اوشرق سره لاس يوکړي ، اوس دغرب اودشرق ترمنځ رقابت ختم شوي . داسلام پرخلاف هغوي اوس متحده جبهه پرانيستي ده . داسلام پرضد چي څه کول غواړي په ګډه بي وکړي . په هرځاي کي دمسلمانانو پرخلاف سازشونه روان دي . دوي نه غواړي چي په اسلامي نړي کي يو قوي اسلامي حکومت سررااوچت کړي . اويو قوي پوځ دي ولري . هغه دي داقتصادي لحاظه وده وکړي . هغه دي اتومي صنايع اووسائل ولري . بايد په اسلامي ملکونو باندي جنګ تحميل کړي . بايد پدي ملکونوکي تشنج اوبي امنيتي وي ، عدم استقراروي ، چي ددغه عدم استقرار ، تشنج اوجنګونو په نتيجه کي دهغه سرمايه داران او تجاران غرب ته پناه ورووري او له خپلوصنايعو سره ، بياهغوي خپلي سرمايي په غربي بانکونو کي وساتي اوغرب دهمدغوسرمايو نه په استفادي سره په اسلامي نړي باندي حکومت وکړي . تاسو به حيران پاتي شي چي که ووايم چي ددغو اسلامي ملکونو نه ديوملك اوه سوه نوي مليارده ډالره په امريکايي بانکونوکي دي . دغه ملك دخليج دجنګ په دوران کي خپلي پيسي دغربيانکونو نه اروپايي امريکا ورته اجازه ورنکړه . بالاخره داملك مجبورشوچي دبانکونونه قرضه واخلي . ددغه خليج دملکونو نه ديوي کورني اتيازوره مليونه ډالره په انګلستان کي درلودل دامريکا اواروپا بانکونه زموږپه پيسو چليږي چي په اسلامي ملکونوکي داتشنج اوبي امنيتي اوعدم استقرار ددي باعث شوي چي بايد دانجاران اوسرمايه داران خپلي پيسي ټولي غرب اواروپا ته انتقال کړي . په هغوبانکونوکي يي بايد ذخيره کړي اوبياغرب ددغوسرمايو نه په استفادي سره په اسلامي نړي اواسلامي ملکونوباندي حکومت وکړي . پدي خاطرهغوي په اسلامي ملکونو کي تشنج غواړي، جنګونه غواړي، عدم استقرار غواړي . چي کوم ملك ددي جرئت کوي چي سراوچت کړي اوغواړي قوي پوځ جوړ کړي اواتومي وسائل ولري . بايد هغه وټکوي، دهغه په خلاف ټول متحد شي . زه له دي نه ويريږم چي له عراق نه بعد دپاکستان په خلاف عين ډرامه جوړه نه شي . هماغسي کاروته شي . دادي هندهم

زه تاسوعلماؤ ته اختياردرکوم ولاړشي په يوواقعي وحدت باندي ټوري ډلي راضي کړي موږتياريو

خپل پوځونه دپاکستان په سرحداتوکي ځاي پرځاي کړيدي اوغرب ددي هڅه کوي چي هندپاکستان پرخلاف وهځوي اودلته يوبل جنګ ته لمن ووهي . بس داجنګونه به همدلته په اسلامي ملکونوکي وي . فلسطينيان بايد ووژلي شي ، دالجزاير مسلمانان بايد په زندانونو کي وي په تونس کي دمسلمانانو مشران اوعلماءبايد زندانونوته ولاړ شي ، په اردن کي بايد مسلمانان بنديان شي ، په کشميرکي بايد مسلمانان په قتل ورسيږي . دوي دي جنګونوته ضرورت لري . دوسلو دفروش بازارته ضرورت لري اوداجنګونه بايد په اسلامي ملکونوکي وي . دوي په اسلامي ملکونو کي عدم استقرار اوعدم امنيت اوتشنج غواړي ترڅو ددوي سرمايي دغربي بانکونوته انتقال شي داسلامي امت دا نوي بيداري هغوي ويرولي . داچي په اسلامي نړي کي دآزادي تحريکونه شروع شوي . اسلامي امت داسلام طرف ته رجوع کړي. په خپلو ملکونوکي اسلامي حکومتونه غواړي ، دي بيداري هغوي ويرولي . همداوجه ده چي چيرته کوم قوم اوکوم ولس داسلام له پاره ملاوتړي ، داسلام دښمنان بايد پخپل ټول زوراوځواك سره راوړاندي شي اوددي قوم دټکولو له پاره يوبل ته لاس ورکړي .

ورونو ا ټول اسلامي امت ديته منتظردي چي په افغانستان کي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت جوړشي . دټولو لاسونه دهمدي له پاره اوچت دي .

ټولوخپل اميدونه په همدي پوري تړلي دي . دټولو دعاداده چي الله دي ددنيا په يوه ګوښه کي دمسلمانانوپه لاس يواسلامي نظام اواسلامي حکومت جوړکړي . اميدبي دافغانستان طرف دي . داميد سترګي بي دافغانستان مومنومجاهدينو طرف ته اوښتي دي .

موږ بايدددي سترآرمان دسرته رسولو له پاره تيارشو .

راځئ له الله سره پردي خبره عهدوکړو چي بايه په افغانستان کي اسلامي حکومت جوړوو بايه ددي سترهدف له پاره خپل سراووينې قربانوو. دابه دپيغوراوډننګ خبره وي چي موږژوندي يو خوپه افغانستان کي يوغيراسلامي حکومت قائم شي . موږپه دي لارکي يونيم مليون شهيدان ورکړي اوددي تولو وينو اوشهادتونو بعددي موږژوندي يو اويوغيراسلامي حکومت دي په افغانستان کي قائم شي . اقتدار دي بي دينه ملحدوعناصرو ته وسپارل شي، زه ورونو ته اطمينان درکوم چي دمجاهدينودخوشي نه پرته هيڅوك په افغانستان باندي حکومت نشي کولاي . موږبه غيراسلامي حکومت حتي ديوي شيبي او لحظي لپاره هم قبول نکړو . ان شاء الله دمجاهدو علماوو په لاس به افغانستان کي اسلامي حکومت جوړيږي .

راځئ پدي خبره يوځل بيابه دي پرتيبي لويي اوستري تاريخي جلسي کي تعهد وکړو چي موږغيراسلامي حکومت نه منو .

کڅوك له ماسره پدي خبري باندي تعهد کوي خپل لاسونه دي اوچت کړي .

(ټولو پرخوالوخپل لاسونه دتاييد په توګه اوچت کړل اودتکبيرپه ويلو سره بي پدرګه کړل)

موږبه افغانستان کي غيراسلامي حکومت ديوي شيبي لپاره هم نه منو، په راتلونکي حکومت کي نه مجيب اودهغه ملګري منواونه ظاهرشاه اودهغه حواريون .

موږدافغانستان په راتلونکي حکومت کي نه مجيب اودهغه دکمونيست حزب ملګري منواوظاهرشاه اوهغه خلك چي دهغه په ځنګ کي بي په تيرودوران کي پرافغانستان باندي حکومت کړي هغه نه منو.

له مجيب سره دافغانستان دمستقبل او راتلونکي په باب خبري نشي کيداي .

